
# دعوتِ اسلامي د
# اولياوِ فيضان دے

**31-August-2023**



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 31 اګست کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# دعوتِ اسلامي د اولياو فيضان دے

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... داتا صاحِب روحاني مدد اوفرمائيلو...؟
- ...د داتا صاحِب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لنډه پيژندګلو
- ... په دعوتِ اسلامي باندې د اوليائے کرامو کرم
- ... په پوکو به دا ډيوه مړه نه کړے شي
- ... دعوتِ اسلامي او د اوليائے کرامو نقشِ سيرت

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د مسلمانانو وړومبي خليفه، حضرت ابو بکر صديق رضی اللہ عنہ ارشاد فرمائيلے: په نبئ پاک، صاحبِ لولاک صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم باندې دُرودِ پاک لوستل ګناهونه دومره زر ختموي [يعنې معاف کوي] چې اوبه هم اور دومره زر نه مړ کوي او په هغوئي صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم باندې درود ليږل د غلام آزادولو نه افضل دي. (1)

تیری اِک اِک ادا پر اے پیارے
سَو درودیں فدا، ہزار سلام
وہ سلامت رہا قیامت میں
پڑھ لئے جس نے دِل سے چار سلام (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار او مدار په نيتونو باندې دے. (1)

1 ... تاريخِ بغداد، رقم: 3706، جلد: 7، صفحه: 172.
2 ... ذوقِ نعت، صفحه: 171170.

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نيت بنده جنّت ته رَسَوي، د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❁ پوره توجُّه سره به بيان اورم ❁ څه چې اورم، د هغې د يادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کووم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## داتا صاحب روحاني مدد اوفرمائيلو...!

حضور خواجه قَمْرُالدِّيْن سِيَالوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خوږ وطن پاکستان مشهور اور معروف هستي ده، د سرګودها (پنجاب، پاکستان) سره نزدې د يوې علاقے اوسيدونکے وو، ډير لوئي عالمِ دِين، باعمله عاشقِ رسول، متقي، پرهيزګاره او پيرِ کامِل وو.

هسې خو د الله پاک د نيکانو بنده ګانو طبيعت، انداز، اخلاق تر ډيره حده پورې د يو بَل سره ميلاويږي خو دا عجيبه اتفاق دے چې ❁خواجه قَمْرُالدِّيْن سيالوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په کال 1981ء کښې وصال اوفرمائيلو، بالکل هم په هغه کال شيخِ طريقت، امير اهلسنت علّامه محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دعوتِ اسلامي باقاعده شروع کړو، لکه چې يو نمر د دنيا نه تلے وو چې هم هغه وخت بَل نمر خپله رڼا شروع کړه. ❁خواجه قَمْرُالدِّيْن سيالوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هم د دِين د خدمت د پاره خپل هر څه قربانولو والا وو، ❁اَلْحَمْدُ لِله! شيخِ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هم د ډيرو زياتو قربانو ورکولو سره په ټوله دنيا

[1]... بخارى، كتاب بدء الوحى، صفحه:65، حديث:1.

کښې د سُنتو پیغام عام کړے دے، ۞خواجه قَمْرُالدِّیْن سیالوي رحمۃ اللہ علیہ یو ځل په مشکلاتو کښې د انختو مسلمانانو د مرستې د پاره ډیر مال، تر دې چې د خپلې بي بي محترمې تر کالو [یعني زیوراتو] پورې ئې وړاندې کړي وو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنت دامت برکاتهم العالیه هم خپل ضرورتونه قربانوي خو د مسلمانانو خدمت کوي، لږه موده مخکښې چې کله په پاکستان کښې ګراني زیاته شوه نو امیر اهلسنت دامت برکاتهم العالیه د اجیرانو د تنخواګانو زیاتولو د پاره د خپل حج او د مدینے د سفر ټکټ کینسل کړو او هغه ټول رقم ئې د اجیرانو د تنخواګانو د پاره وړاندې کړو. ۞د خواجه قَمْرُالدِّیْن سیالوي رحمۃ اللہ علیہ د خدماتو ستائنه شوې وه نو د امیرِ اهلسنت دامت برکاتهم العالیه د دینی و ملی او فلاحی خدماتو هُم ستائینه کیږي. غرض: په دې دواړو نیکانو هستیانو کښې ډیر مناسبت ښکاري.

خیر! دا خو یوه ضمني خبره وه، اصل کښې د حضور داتا ګنج بخش علي هجویري رحمۃ اللہ علیہ یو کرامت اورول وو. خواجه قَمْرُالدِّیْن سیالوي رحمۃ اللہ علیہ یو ځل د داتا صاحب رحمۃ اللہ علیہ د دربار سره په خوا کښې په جُمات کښې ناست وو، د هغوئي سره په خوا کښې ډیر مریدان او مُحِبِّین هم راجمع وو، په دې کښې یو غیر مسلمه هلته راغلے، خلقو خواجه قَمْرُالدِّیْن سیالوي رحمۃ اللہ علیہ ته اووئیل حضور! دے د غیر مسلمو ډیر لوئي علّامه او ماهر کس دے، د عاشقانِ رسول علمائے کرامو سره فضول بحث کوي او ډیر ئې تنګوي.

په اصل کښې دا ګس د خواجه قَمْرُالدِّیْن رحمۃ اللہ علیہ د تنګولو په نیت راغلے وو، هغه یوه پوښتنه اوکړه، اوئې وئیل: تاسو مسلمانان د جُماتونو په دیوالونو باندې یو شعر لیکئ:

چراغ و مسجد و محراب و منبر | ابو بکر و عمر، عثمان و حیدر

یعني ابو بکر صِدِّیق، عمر فاروق، عثمانِ غني، عليُّ الْمُرْتَضٰی (د اسلام څلور واړه ورومبي

خلفاء رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم) د ډيوې په شان رڼا خوروونکي، د جُمات په شان عزت او شان والا او د محراب او منبر حقيقي وارثان دي.

غير مسلمه پوښتنه اوکړه: تاسو د جُمات په ديوال باندې دا شعر ولې ليکئ؟ خواجه قَمَرُالدِّيْن سيالوي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ اوفرمائيل: دې د پاره چې کله يو کَس جُمات ته راشي نو هغه ته پته اولګي چې دا جُمات عاشقانِ رسول، عاشقانِ اهلِ بيت او عاشقانِ صحابه جوړ کړے دے. د دې جواب اوريدو سره هغه غير مسلمه اووئيل: تاسو خلق مسلمانان ئيئ، حضرت مُحَمَّد (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) خپل نبي منئ، بيا خو تاسو له پکار دي چې صرف د هغوئي تعريفونه کوئ، تاسو له پکار دي چې د رڼا والا ډيوه، د جُمات پشان عزت او احترام، د محراب او منبر حقيقي مالِک صرف مُحَمَّد (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) منئ خو تاسو دا شانونه د مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ځائے د اصحابو د پاره منئ نو دا خو تاسو د مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شان کښې کمے کوئ، حالانکه هغوئي ستاسو نبي دے.

خواجه قَمَرُالدِّيْن سيالوي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د اعتراض ډير جوابونه ورکړل خو هغه داسې ضِدي وو چې د منلو د پاره هډو تياريدو نه (اوس ظاهره ده چې هلته نور خلق هم موجود وو، که دا غير مسلمه مطمئين کړے شوے نه وے نو د خلقو په زړونو کښې وسوسے پيدا کيدے شوې) خواجه قَمَرُالدِّيْن سيالوي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: ما سوچ کولو چې دے څنګه مطمئين کړم؟ اوس مې لا دا سوچ کولو چې داتا حُضور رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ کرم اومائيلو، د هغوئي د نُوراني روضے مبارکې نه د نُور يوه شعله اوچته شوه او راغله زما سينے ته کوزه شوه، په هُم هغه وخت د داتا حُضور رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په فيضان زه د هغه د اعتراض په جواب پوهه شوم، ما هغه غير مسلمه ته اووئيل! مونږ چې وايو:

| | |
|---|---|
| چراغ و مسجد و محراب و منبر | ابو بکر و عمر، عثمان و حيدر |

د دې حقيقي مطلب دا جوړېږي چې زمونږه آقا او مولیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه شان والا نبي دے چې ❁هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل نبوت په نظر څوک د ډیوې په شان رڼا ورکونکے جوړ کړو، ❁چا له ئې د ځمات پشان عَظَمت او عزت ورکړو، څوک ئې د محراب او منبر مالِک جوړ کړو او تر قيامته پورې ئې امام، پيشوا او مُقتدٰی جوړ کړو. ځکه په دې شعر کښې د حضرت ابو بکر، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان غني او حضرت عليُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُم شان ښکاره دے خو د دې سره سره د دې خبرې بيان هم دے چې

دامنِ مصطفٰے سے جو لپٹا یگانہ ہوگیا | جس کے حُضُور ہوگئے، اس کا زمانہ ہوگیا

ځکه دا شعر په ظاهره کښې د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په شان کښې دے خو په اصل کښې د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عَظَمت او شان بيانوي. بس د دې جواب اوريدو سره هغه غير مسلمه راپريوتو، ټوپۍ ئې د سر نه پريوتله، هغه فوراً ځان راسم کړو او اوئې وئيل: کوم جواب چې ما ته نن تاسو راکړے دے، دا جواب ما له تر اوسه پورې چا هم نه وو راکړے. (1)

## هر صحابئ نبي، جنّتي! جنّتي!

اَلله! اَلله! اے عاشقانِ رَسُول! اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت! لږ غور اوکړئ! اوليائے کرام د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره څومره محبت کوي، حضور داتا گنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د څلورمې صدۍ هجرۍ بزرګ دے، خواجه قَمَرُالدِّيْن سيالوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تيرې صدۍ بزرګ دے، يعني په مينځ کښې ئې تقريباً د 9 صدو فاصله ده، د دې 9 صدو نه

---

[1]... نامِ محمد کے میں قربان، صفحه: 44-45 بتغير قليل.

پس خواجه قَمَرُالدِّین سیالوي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د داتا صاحب په بارګاه کښې حاضر دے، یو غیر مسلمه راځي، د صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان په شان باندې اعتراض کوي، حضور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه چې کله په دنیا کښې وو، هغه وخت خو به ئې د صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان شان بیانولو خو قربان شم! د هغوئې د وِصال نه ډیرې صدئ وروستو چې د صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان په شان باندې اعتراض اوشو نو په مزار کښې دننه هم په هغوئې رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه باندې دا خبره ښه اونه لګیده او هغوئې په خپل رُوحاني فیضان سره د صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان د شان اظهار اوفرمائیلو.

اَلْحَمۡدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک **دعوتِ اسلامي فیضانِ اولیاء دے**، فیضانِ داتا دے، د **الله** پاک په فضل او په عطا سره داتا صاحب د دنیا نه د پرده فرمائیلو نه پس هم چې په خپل روحاني فیضان د کومو صحابه شان اُوښودو، نن دعوتِ اسلامي د هُم هغه صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان د محبت منقبتونه وائي، اَلْحَمۡدُ لِلّٰه! دا د **دعوتِ اسلامي** فیضان دے چې نن د ماشوم ماشوم په خُله باندې دا نعره ده چې:

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابۍ نبي! | جَنَّتي! جَنَّتي! | تهولې صحابیاني هُم! | جَنَّتي! جَنَّتي! |
| څلور یاران د نبي! | جَنَّتي! جَنَّتي! | حضرت صدیق هُم! | جَنَّتي! جَنَّتي! |
| حضرتِ فاروق هُم | جَنَّتي! جَنَّتي! | عثمانِ غنی! | جَنَّتي! جَنَّتي! |
| فاطمه او علي! | جَنَّتي! جَنَّتي! | حسن او حسین هُم! | جَنَّتي! جَنَّتي! |
| والدَین د نبي! | جَنَّتي! جَنَّتي! | تهولې بیبیانې د نبي! | جَنَّتي! جَنَّتي! |
| دے ابوسُفیان هُم | جَنَّتي! جَنَّتي! | او معاویه هُم! | جَنَّتي! جَنَّتي! |

## د حضرت داتا صاحب مختصر تعارُف

❀ داتا صاحِب رحمۃ اللہ علیہ زيات و کم 400 هجرئ کښې دنيا ته تشريف راوړو ❀ د هغوئي نوم مبارک: عَلِي او د والِد صاحب نوم ئې: عثمان دے ❀ داتا صاحِب رحمۃ اللہ علیہ د افغانستان د علاقے غزني اوسيدونکے دے: د غزني يوه محله ده: هَجوَير. داتا صاحِب رحمۃ اللہ علیہ په دغه محله کښې اوسيدو، په دې نسبت سره ورته هجويري اووئيلے شو ❀ هغوئي نَجِیْبُ الطَّرَفَیْن يعني حَسني، حُسيني سَيِّد دے ❀ د شروع نه ډير نيک، عبادت گُزار او د عِلمِ دين ډير شوق لرونکے وو ❀ داتا صاحِب رحمۃ اللہ علیہ د عِلمِ دِين زده کولو د پاره د عراق، شام، لبنان، آذر بائيجان، خُراسان او تُرکِستان وغيره ډيرو ملکونو سفر کړے وو، د هغه وخت د لويو لويو عالمانو او صوفيائے کرامو نه ئې عِلمِ دِين حاصل کړو ❀ تقريباً د 34 کالو په عمر مبارک کښې ئې د خپل پير صاحب شيخ ابو الحسن خُتَّلي رحمۃ اللہ علیہ په حکم باندې لاهور ته تشريف راوړو ❀ دلته ئې د نيکئ دعوت عام کړو، د دينِ اِسلام پيغام ئې خور کړو، خلقو ته ئې د قرآن او سُنَّت تعليم ورکړو، په خپلو اخلاقو او کردار، کله په بيانونو کولو سره او کله په کراماتو ښودلو ئې بے شميره کافِران مسلمانان کړل، او کوم چې د مخکښې نه مسلمانان وو، هغوئي ئې د سُنَّتو نمونے جوړ کړل، ډير عالمان ئې جوړ کړل، ډير خلق ئې په خپل تربيت کښې د ساتلو سره د وِلايَت اوچتې مرتبے ته اورَسَوَل ❀ تقريباً 30 کاله موده کښې ئې په بَرِّ صغير کښې يو انقلاب راوستو ❀ د يوځ قول مطابق هغوئي په 465 هجرئ کښې د دې دنيا نه پرده اوفرمائيله ❀ د هغوئي مزار مبارک په لاهور کښې دے ❀ د هغوئي په نسبت سره لاهور ته مرکزُ الآوليا

او داتا نګر هم وئیلے شي. (1)

کیا غرض دَر دَر پھروں میں بھیک لینے کے لئے | ہے سلامت آستانہ آپ کا داتا پیا
جھولیاں بھر بھر کے لے جاتے ہیں منگتے رات دِن | ہو مری اُمّید کا گلشن ہَرا داتا پیا(2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فیضانِ اولیا تقسیمولو والا تحریک

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حضور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عرسِ پاک ورځې هم رانزدې دي او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د فیضانِ اولیاء تقسیمولو والا عظیمُ الشان دیني تحریک دعوتِ اسلامي د باقاعده شروع کیدو ورځ یعني **یومِ دعوتِ اسلامي** هم بالکل رانزدې شوې ده، نن 31 اګست دے، **په 2 ستمبر به** "یومِ دعوتِ اسلامي" **په جوش و عقیدت سره نمانځلے شي.** یعنې دوه ورځې پس به د **دعوتِ اسلامي** د جوړیدو 42 کاله پوره شي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي په ټوله دنیا کښې د سنتو پیغام عام کوونکے، د عشقِ رسول د میني جامونو تقسیموونکے، د قرآنِ پاک د محبت شمع په سینو کښې روښانه کوونکے او د **الله** پاک په فضل سره فیضانِ اولیا عام کوونکے تحریک دے.

اللہ کی نعمت ہے، یہ دعوتِ اسلامی | آقا کی عنایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی
رحمٰن کی رحمت ہے، یہ دعوتِ اسلامی | شیطاں کی ہلاکت ہے، یہ دعوتِ اسلامی

1 ... تفصیل دپاره اوګورئ د مکتبةُ المدینه رساله "فیضانِ داتا علی ہجویری رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه".

2 ... وسائلِ بخشش، صفحه: 534.

سب نبیوں کی، ولیوں کی، اَصحاب کی اہلِ بیت | کی خاص عنایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی[1]

## په دعوتِ اسلامي باندې د اوليائے کرامو کرم

دعوتِ اسلامي په ټوله دنيا کښې د هاغه تعليماتو عام کولو کوشش کوي، کوم تعليمات چې اوليائے کرامو ښودلي دي، ❁هُم هغه کردار، ❁هُم هغه انداز، ❁هُم هغه اخلاق، ❁هُم هغه طور طريقے کومې چې اوليائے کرامو اختيار کړې وې، ❁او نورو ته ئې رسولې هم وې، د الله پاک په کرم باندې دعوتِ اسلامي د هغه کردار خپلولو او عاشقانِ رسول په هغه رنګ کښې په رنګ کولو کښې مصروف دے.

د الله پاک ډير لوئې کرم دے، ډير لوئې فضل دے چې اوليائے کرام کوم چې ډير د اوچت شان والا دي، ❁د کومو شان چې رَبِّ کائنات په قرآنِ کريم کښې بيان فرمائيلے دے، ❁د کومو برکتونه چې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حديثونو کښې بيان فرمائيلي دي، ❁هُم هغه اوليائے کرام کوم چې الله پاک ته نزدې دي، ❁د مصطفٰے کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې هم مقبوليت لري، د الله پاک په عطا سره د عاشقانِ رسول په خوبونو کښې هُم تشريف راوړې او شفقت فرمائي، ډاډګيرنه هم فرمائي او د دعوتِ اسلامي په باره کښې اطمينان هم ظاهروي.

## د داتا صاحِب له خوا د مدني قافلے سره ښيګړه

يو خو اسلامي وروڼه کوم چې د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول سره د مدني قافلے مسافر وو، سنت ئې زده کول، د نيکۍ دعوت ئې عام کولو، د هغوئې بيان دے چې

---

[1]... وسائلِ فردوس، صفحه: 44 ملتقطًا.

زمونږه قافله د الله پاک په لاره کښې په سفر وه چې مرکزُ الاولياؤ لاهور ته د داتا دربار جُمات ته اورسيدله، هلته زمونږه 3 ورځې قيام وو، د مدني قافلے د جدول مطابق د سنتو زده کولو ښودلو حلقه لګيدلې وه، دغه وخت يو صاحب تشريف راوړو، هغوئي د عاشقانِ رسول سره ډير په مينه ملاقات اوکړو، بيا ئې اووئيل: اَلْحَمْدُلِله! بيګاه زما بخت رابيدار شو، حضور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ما ګنهګار ته په خوب کښې تشريف راوړو او اوئې فرمائيل: د دعوتِ اسلامي د مدني قافلے عاشقانِ رسول د 3 ورځو د پاره زما په جُمات کښې حصار دي، ته د دوئي د پاره د ډوډئ انتظام اوکړه! ځکه ما د مدني قافلے والؤ د ميلمستيا د پاره ډوډئ راوړې ده، قبوله ئې کړئ! (1)

کيا غرض دَر دَر پھروں ميں بھيک لينے کے لئے
ہے سلامت آستانہ آپ کا داتا پيا
جھولياں بھر بھر کے لے جاتے ہيں منگتے رات دِن
ہو مِری اُمّيد کا گلشن ہَرا داتا پيا (2)

## کرامت حق دے

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څومره ښکلے شان دے د داتا صاحب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ...!! اَلْحَمْدُلِله! د الله پاک په کرم باندې، د هغه په عطا باندې اوليائے کرامو ته دا طاقت ميلاويږي چې هغوئي د دنيا نه د تللو نه پس په قبرونو کښې ژوندي وي، خپل غلامان هم ويني، چې الله اوغواړي نو کرم هم کوي. دغسې د وصال نه پس هم د ژوندو د حالاتو نه خبريدل او د هغوئي سره ښيګړه کول دا د اوليائے کرامو کرامت دے او کرامت حق دے. پخپله داتا صاحِب رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په خپل مشهور کتاب کَشفُ المَحجُوب

1... گھريلو جھگڑوں کا علاج، صفحه: 87 بتغير قليل.

2... وسائلِ بخشش، صفحه: 534.

شَرِیف کښې فرمائي: د اولیائے کرامو نه کرامات ظاهرېږي، دا خبره د قرآنِ پاک نه هم ثابته ده او د حدیثونو نه هم ثابته ده. (په قرآنِ کریم کښې ډېر کرامات بیان شوي دي: مثلاً د حضرت عیسی عَلَیْہِ السَّلَام د مور بي بي حضرت مریم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْھَا کرامات په قرآنِ کریم کښې بیان شوي دي، د حضرت آصَف بن برخیا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د کراماتو بیان په قرآنِ پاک کښې دے، دغسې په حدیثونو کښې بلکه بُخاري او مسلم شریف کوم چې د حدیثونو د ټولو نه معتبر کتابونه دي، په دې کښې هم د اولیائے کرامو د کراماتو بیان موجود دے نو) د کراماتو نه انکار کول په اصل کښې د قرآن د آیتونو او د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حدیثونو نه انکار دے. (1)

## قافله کښې لاړ شئ! قافله کښې لاړ شئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوکتل! د داتا صاحب رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د مدني قافلے والؤ سره څومره محبت دے، هغوئي څومره په ښکلي انداز کښې د مدني قافلے والؤ عاشقانِ رسول خیر خواهي اوکړه. د دې نه معلومه شوه چې د مدني قافلو مسافر جوړیدل د اولیائے کرامو د نظرِ کرم حاصلولو بهترینه ذریعه ده.

دیتے ہیں فیضِ عام، اولیائے کرام
لوٹنے سب چلیں، قافلے میں چلو

اولیا کا کرم، تم پہ ہو لا جَرَم
خوب جلوے ملیں، قافلے میں چلو

بے عمل با عمل بن گئے خاص کر
آپ بھی دیکھ لیں، قافلے میں چلو (2)

تاسو ته هم خواست دے چې: د الله او د رسول د رضا حاصلولو د پاره، د نیکو ګټلو د پاره، د سنتو زده کولو او نورو ته د ښودلو د پاره، د نیک او لمونځ ګزاره جوړیدلو او جوړولو

---

[1]... کَشْفُ الْمَحْجُوب (مترجم)، صفحه: 333 بتغیر قلیل.

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه: 671 672 ملتقطًا.

دپاره، د عشقِ رسول او د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو د محبت شمع په زړونو کښې روښانه کولو د پاره او د فيضان اولياء حاصلولو د پاره په مدني قافلو کښې سفر کوئ! په ژوند کښې په يو مخ د 12 مياشتو، په هرو 12 مياشتو کښې د يوې مياشتې او په هره مياشت کښې کم نه کم د 3 ورځو مدني قافله کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ!

## د دين د خادِم فضيلت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! يقيناً څوک چې د **الله** پاک د دِين خدمت کوي، **الله** پاک د هغوئي مدد فرمائي. په شپږ ويشتمه سيپاره، سورۀ مُحَمَّد، آيت: 7 کښې **الله** پاک فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَ يُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ۝۷

(پاره:26، مُحَمَّد:7)

ترجمهٔ کنزُ العرفان: اے ايمان والؤ! که تاسو د الله د دِين مدد کوئ نو **الله** به ستاسو مدد کوي او تاسو ته به ثابت قدمي عطا کوي.

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې کوم بنده د **الله** پاک د دين خدمت کوي ❀ عِلمِ دِين زده کوي ❀ نورو ته ئې ورښائي ❀ د نيکئ دعوت عام کوي ❀ د دين د خدمت د پاره کور کلے پريږدي ❀ د خپل بال بچ جدائي برداشت کوي ❀ د دين دعوت عام کولو دپاره د لرې لرې علاقو سفر کوي ❀ پخپله هم نيکئ کوي، د نورو هم د نيک لمونځ گزاره جوړولو کوشش کوي، **الله** پاک د داسې بندګانو مدد فرمائي، هغوئي ته په نيک مقصد کښې کاميابي عطا کوي، که په هغه باندې سخته راشي، پريشاني راشي نو د هغه مدد کوي او مُفَسِّرِينِ کرامو تر دې پورې ليکلي دي چې کوم بنده د دين خدمت کوي، **الله**

پاک په دنيا کښې هغه ته په ايمان باندې استقامت عطا کوي او په آخرت کښې به هغه ته په پل صراط باندې ثابت قدمي عطا کوي. (1)

کرم سے "نیکی کی دعوت" کا خوب جذبہ دے
دُوں دُھوم سُنّتِ محبوب کی مچا یا رَبّ!
میں پُل صراط بلا خوف پار کر لُوں گا
ترے کرم کا سہارا جو مِل گیا یا رَبّ! (2)

## د داتا صاحِب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پاکيزه انداز

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دين د تبليغ د پاره د **الله** پاک په لار کښې سفر کولو ته مدني قافله وئيل دا د دعوتِ اسلامي اِصطلاح ده، البته! دا کار يعني د دين د تبليغ د پاره د **الله** پاک په لار کښې سفر کول د اوليائے کرامو په معمولاتو کښې شامل وو. د مثال په طور د داتا صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سيرتِ پاک اولولئ! د دِين زده کولو او نورو ته د ښودلو د پاره د **الله** پاک په لار کښې سفر کول د داتا صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په معمولاتو کښې شامل وو، هغوئي ډيرې سفرې کړې دي، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عراق سفر کړے وو، د شام، لبنان، آذر بائيجان، خراسان، ترکستان او د دې نه علاوه ئې د ډيرو ملکونو سفر کړے وو، تاسو ته پته ده ولې؟ د مال ګټلو د پاره نه، د ماڼو، بنګلو جوړولو د پاره نه بلکه د علم دين حاصلولو د پاره.

او دا سفرې تاسو ته پته چې هغوئي کله کړې وې؟ په ځلمي توب کښې، هغه **ځلمي توب** کوم ته چې نن سبا نادانه خلق **ليونتوب** وائي، په کوم عمر کښې چې بعضې خلق په مجازي عشق کښې د اخته کيدو سره سره په عيش او عشرت کښې د زړه لګولو، د

---

1 ...تفسير صراط الجنان، پاره: 26، مُحَمَّد، زيرِ آيت: 7، جلد: 9، صفحه: 298 خلاصةً.

2 ...وسائلِ بخشش، صفحه: 77 ملتقطاً.

آخرت د فکر پريښودو، قبر او حشر ته د فکر نه کولو په غفلتونو او ګناهونو کښې اخته وي، د دې نه علاوه په فضولو کارونو کښې خپل وخت تباه کوي، داتا صاحب رحمۃ اللہ علیہ به په دې عمر مبارک کښې د **الله** پاک د لارې مسافر جوړيدلو او دين به ئې زده کولو او نورو ته به ئې ښودلو. او بيا صرف د 34 کالو په عمر مبارک کښې هغوئي د غزني نه لاهور ته سفر اوفرمائيلو، د زرګونو کلوميټره فاصله...!! په هغه وخت کښې هوائي جازونه هم نه وو، موټرې، بسونه وغيره هم نه وو، هغوئي دا سخت سفرونه اوکړل او د خپل وطن نه دومره لرې ئې تشريف راوړلو، ولې؟ د دِين د خدمت د پاره، بے لارې شوو ته د حق لارې ښودلو د پاره.

پکار ده چې مونږ هم همت اوکړو، **الله** پاک ژوند راکړے دے، ساه ګانې ئې راته عطا کړې دي، ځواني ئې راکړې ده، دا په فضولياتو کښې، د ګناهونو نه په ډکو کارونو کښې د ضائع کولو په ځائے د اوليائے کرامو په نقشِ سيرت باندې د تللو سره، د هغوئي د فيضان حاصلولو د پاره د مدني قافلو مسافر جوړ شو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د اوليائے کرامو په فيضان سره به مو دنيا هم ښه شي او په آخرت کښې به مو هم بيړئ پورې وځي.

دل کی کلیاں کھلیں قافلے میں چلو
رنج و غم بھی مٹیں قافلے میں چلو

دِل کی کالک دُھلے، دردِ عصیاں ٹلے
آؤ سب چل پڑیں، قافلے میں چلو

دُور بیماریاں اور پریشانیاں
ہوں گی بس چل پڑیں، قافلے میں چلو

فائدہ آخرت کے بنانے میں ہے
سب مبلغ کہیں قافلے میں چلو(1)

---

1 ... وسائل بخشش، صفحه: 677676 ملتقطًا.

## حق چرې هم نه ختميږي!

اے عاشقانِ رَسُول! د دِين خدمت کول، د دِين د پاره د قربانو ورکولو په ذريعه د غير مسلمو سازشونه ناکامه کول هغه مبارک ديني کار دے کوم چې په هر دور کښې اوليائے کرامو کړے دے، يقيناً په دې نيک کار کښې حصه دار جوړيدل زمونږ د پاره د سعادت خبره ده، ځکه نو دا دين خو هغه دين دے کوم چې رَبِّ کريم غالب فرمائيلے دے او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! دا دين به تر قيامته پورې باقي وي. **اللّٰه** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَ يَاْبَى اللّٰهُ اِلَّاۤ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۳۲﴾

(پاره:10، التوبہ:32)

ترجمۂ کنز العرفان: دوئي غواړي چې په خپلو خُلو د **اللّٰه** نُور مړ کړي حالانکه **اللّٰه** به د خپل نُور پوره کولو نه بغير بله خبره اُونه مني، اګر که کافران ئې بد ګڼـي.

مُفَسِّرين کرام د دې آيت په وضاحت کښې فرمائي: کافرانو دا غوښتل او اوس هم غواړي چې د محبوبِ خُدا، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ پاک اودروي، دين اسلام ختم کړي خو **اللّٰه** پاک د دې نه انکار فرمائي يعني **اللّٰه** پاک د کافِرانو په دې حرکتونو هيڅکله هم رضا نه دے، د کافرانو د سازشونو، د دوئي په کوششونو نه مخکښې دين ختم شوے دے او نه به بيا د پاره ختم شي، د اسلام په شان کښې نه مخکښې څه کمے راغلے دے، نه به بيا راځي، د **اللّٰه** پاک د محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر مخکښې هم اوچت وو، اوس هم اوچت دے او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! تر قيامته پورې به اوچت وي، په دې کښې

به کمے نه راځي بلکه اضافه به پکښې کيږي. (1)

مٹ گئے، مٹتے ہیں، مٹ جائیں گے اَعدا تیرے
نہ مٹا ہے، نہ مٹے گا کبھی چرچا تیرا

تُو گھٹائے سے کسی کے نہ گھٹا ہے نہ گھٹے
جب بڑھائے تجھے اللہ تَعَالٰی تیرا (2)

وُہی دُھوم اُن کی ہے مَا شَآءَ اللہ!
مِٹ گئے آپ مٹانے والے (3)

## په پوکو دا ډيوه نه مړه کيږي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مُفَسِّرِينِ کرامو د دې آيت شريف لاندې يوه ايمان تازه کوونکې خبره دا هم ليکلې ده چې کافران د شروع نه تر اوسه پورې د دينِ اسلام د ختمولو د پاره خپل ډير کوششونه کړي دي، مالونه لګوي، خپل افرادي طاقت استعمالوي، په اوسني دور کښې خو ټيکنالوجي هم استعمالوي، غرض: کافران د دين د ختمولو د پاره خپل پوره کوشش کوي خو الله پاک د دوئي ټولو کوششونو ته صرف پوکې (يعنې د خُلې نه وتونکې هوا) وئيلې ده، يعنې دا کافِران چې څومره هم کوششونه اوکړي، سازشونه اوکړي، د اسلام په مقابله کښې د دوئي حيثيت صرف د پوکو په شان دے، لکه څنګه چې نمر په پوکو نشي مړ کيدے، دغه شان د کافرانو په دې کوششونو به دين نه ختميږي. (4)

نُورِ خُدا ہے کُفر کی حرکت پہ خندہ زَن
پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائے گا

---

1 …تفسير صراطُ الجنان، پاره: 10، التوبه، زيرِ آيت: 32، جلد: 4، صفحه: 110109 خلاصةً.

2 …حدائقِ بخشش، صفحه: 29.

3 …حدائقِ بخشش، صفحه: 161.

4 …تفسير نعيمی، پاره: 10، التوبه، زيرِ آيت: 32، جلد: 10، صفحه: 273 خلاصةً.

## د اسلامي تهذيب او ثقابت د مضبوطئ راز

يو غير مسلمه د کافرانو په ناکامو باندې يو ځل تبصره اوکړه، هغه وائي: مونږ ډير کوششونه اوکړل، ټول عمر مو محنت اوکړو، په لکونو مسلمانان مو شهيدان هم کړل، د ډيرو ملکونو د بادشاهانو تختونه مو واړول، تاجونه مو هم ورغړول، ويني مو هم توئې کړې، د دې باوجود اسلامي تهذيب، اسلامي ثقافت او اسلامي فِکر د دنيا نه ختم نه شو، د دې وجه دا ده چې کله هم مونږ د اسلام خلاف سازشونه جوړ کړو، اسلام د جرړې نه د ختمولو اراده اوکړو، هر ځل څوک صوفئ باصَفَا وَلِئ کامِل د دين د خدمت د پاره راپاڅي او په لږه موده کښې زمونږ د کلونو خوارې برباد کړي.

اَللّٰهُ اَكْبَرُ! رښتيا هغه وي د څه ګواهي چې دښمن ورکړي، دا واقعي چې يو تاريخي حقيقت دے. کافران ټول کال کوششونه کوي، د اسلام خلاف سازشونه جوړوي خو کله چې دوئي دا اوګڼي چې مونږ اوس کاميابئ ته ډير نزدې يو، دغه وخت د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غلامانو کښې يو مردِ قلندر راپاڅي او د کافرانو د کلونو کوششونه ناکامه کړي ❁ هغه وخت کله چې د بغداد سلطنت په آخري سلګو وو، د کافرانو په سازشونو چې مسلمانان منتشِر شوي وو، د ملتِ اسلاميه دور ختميدونکے وو، هغه وخت سرکارِ بغداد حضور غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړو، هغوئي مسلمانان يو وارې بيا يو ځائے کړل، د هغوئي ايمان تازه کوونکو بيانونو او د نيکئ دعوت مسلمانانو له يو وارې بيا اسلامي ژوند ورکړو ❁ په هندوستان کښې چې کله هر طرف کُفر وو، حضرت خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړو، هغوئي د کروړونو مسلمانانو اِصلاح اوفرمائيله، په لکونو کافران ئې مسلمانان کړل او د کافرانو ټول کوششونه ئې په

خاورو کښې ګډ کړل ❀ د پنجاب په زمکه چې کله اسلام د انديښنو سره مخ شوے وو، حضرت داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اسلام خدمت اوکړو ❀ تير وخت کښې چې کله په بر صغير باندې د کافرانو حکومت راغلے، مسلمانان د غلامئ په زنځيرونو کښې راګير شول، د اسلام خلاف په زرګونو سازشونه جوړ کړے شوي وو خو د الله پاک کرم اوشو، د بريلي تاجدار، امام اهلسنت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دنيا ته تشريف راوړو، هغوئي شپه ورځ محنت اوکړو او د هر طرف نه د راپورته شوو فتنو مخې ته ئې بند اوتړلو او د کافرانو هر سازش ئې ناکامه کړو. دغه شان په هر دور کښې هم داسې شوي دي، کافرانو ټول عمر کوشش اوکړو، کله چې د هغوئي کوششونه کاميابيدل، هلته صرف يو مرد قلندر د هغوئي ټول کوششونه ناکامه کړل.

## دعوتِ اسلامي او د اوليائے کرامو نقشِ سيرت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! کوم کار چې په صدو مخکښې اوليائے کرامو کړے دے، نن د هغه کار سعادت دعوتِ اسلامي حاصلوي. په اوسني د فتنو نه په دې ډک دور کښې هم اسلام د ډيرو انديښنو سره مخ دے، اوس کافرانو ته پته ده چې اسلام په توره نشي ختميدے، اوس هغوئي يو نوے سازش شروع کړے دے چې

يه فاقه کش که موت سے ڈرتا نہيں ذرا | رُوحِ مُحَمَّد اس کے بدن سے نکال دو

يعنې مسلمانان د مرګ نه نۀ ويريږي، د دوئي د ختمولو بس صرف يوه طريقه ده، هغه دا چې د دوئي د زړونو نه د ايمان محبت، د عشقِ رسول دولت ويستلے شي، چې د زړونو نه ئې د ايمان محبت لاړ شي، بيا به تش په نوم مسلمانان پاتې شي.

د دې مقصد پوره کولو د پاره باطلو قوتونو ډيرې ذريعے اختيار کړې ❁ جديد ټيکنالوجي ئې استعمال کړه ❁ فيشن ئې عام کړو ❁ فلمونه ډرامے ئې عامې کړې ❁ اسلامي تهذيب ته د نقصان رسولو د پاره قسما قسم کوششونه اوشول ❁ د کومو له وجې چې ګناهونو او فيشن ډير مسلمانان په خپله ګيره کښې واخستل ❁ بے عملي خوره شوه ❁ مسلمانان د عِلمِ دين نه بے رغبته شول ❁ جماتونه وران او د ګناهونو اډې آبادې شوې ❁ د بے دينئ او بد مذهبئ سمندر په موجونو شو ❁ مسلمانان د موسيقئ ❁ شرابو او ❁ جوارئ وغيره د بدو عادتونو په وجه تيزئ سره د بد اخلاقئ کندې ته پريوتل شروع شول.

په داسې نازکو حالاتو کښې **الله** پاک يو ولئ کامل د خلقو د اصلاح د پاره منتخب اوفرمائيلو، دا ولئ کامل خلق د **شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په نوم باندې پيژني.

| | |
|---|---|
| مسلک کا تُو امام ہے الیاس قادری | تدبیر تیری تام ہے الیاس قادری |
| تنہا چلا تُو ساتھ ترے ہو گیا جہاں | میٹھا ترا کلام ہے الیاس قادری |
| فکرِ رضا کو کر دیا عالم میں آشکار | یہ تیرا اونچا کام ہے الیاس قادری |
| ہے دعوتِ اسلامی کی دُنیا میں دُھوم دَھام | مقبول تیرا کام ہے الیاس قادری[1] |

❁ شيخِ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ستمبر کال 1981ء کښې د **دعوتِ اسلامي** بنياد کيښودو ❁ هغوئي دا مدني مقصد خپل کړو چې **ما ته د ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي** اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم بيا د دې مدني مقصد سره هغوئي شپې او ورځې

[1]…مناقِبِ عطار، صفحه: 1211 ملتقطًا.

ته اونه کتل، پرله پسې ئې کوشش کولو، کولو، تر دې چې **الله** پاک کرم اوکړو او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په نظرِ عنايت سره، او د اوليائے کرامو په فيضان سره د دعوتِ اسلامي ديني پيغام په ټوله دنيا کښې عام شو.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د پرله پسې کوششونو سره ❀ چې کوم بے لمانځه وو لمونځ گزاره جوړ شول بلکه د جماتونو امامان جوړ شول ❀ بد نگاهي کوونکي حيا دار جوړ شول ❀ مور پلار تنګوونکي با ادبه جوړ شول ❀ غله او ډاکوان راغلل، توبه ئې اوکړه، غلا، ډاکې ئې پريښودلې او د معاشرے شريف انسانان جوړ شول ❀ د حسد په وور کښې سوزيدونکي شکر گزار او خير خوا جوړ شول ❀ د دنيا د گنده گناهونو سره عشق کوونکي، د خوږ مصطفٰے، مکي مدني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د زلفانو ليونيان شول ❀ په مال او دولت پسې روان د **الله** پاک د رضا طلب گار شول ❀ شرابيان راغلل، توبه ئې کړه او پاک انسانان جوړ شول ❀ غافله راغلل، عبادت کوونکي جوړ شول ❀ د بے لارې شوو نيغه لار نصيب شوه ❀ په زرگونو کافرانو ته د اسلام نعمت نصيب شو. دغه شان يو يو دوه دوه راتلل، د نيکۍ د دعوت په دې سفر کښې د هغوئي د اخلاص، اعلىٰ اخلاقو او انفرادي کوشش په برکت هغوئي سره عاشقانِ رسول ملګري کيدل ملګري کيدل، او کاروان ترينه جوړ شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نيکۍ د دعوت دا ديني پيغام ټولې دنيا ته اورسيدو.

اے امیرِ اہلسنت تیری شوکت زندہ باد
تجھ سے دُنیا بھر میں ہے دِیں کی اشاعت زندہ باد

تیری مجلس میں گئے جو بن گئے صالح سعید
نوجواں پر ہو ترا فیضانِ صحبت زندہ باد

گوشہ گوشہ دنیا کا ہونے لگا ہے فیض یاب
عام ہر سُو ہو گیا فیضانِ سُنَّت زندہ باد (1)

---

1 ...مناقب عطار، صفحه: 1615 ملتقطاً.

## کار هم هغه، انداز هم هغه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** دعوتِ اسلامي کارونه هم هغه کوي کوم چې اوليائے کرامو کړي دي او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي انداز هم هغه دے کوم چې اوليائے کرامو خپل کړے وو. تاسو که د اوليائے کرامو سيرتونه اولولئ، د هغوئي ديني خدمتونه اولولئ، د هغوئي د نيکئ د دعوت عام کولو انداز اولولئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! تاسو ته به د دعوتِ اسلامي هر يو انداز د اوليائے کرامو مبارک انداز ښکاره شي.

دلته صرف د غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ديني خدمتونو انداز تاسو ته وړاندې کووم، دې تناظر کښې د دعوتِ اسلامي انداز ته اوګورئ!

## غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د دين د خدمت انداز

حضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پيرانو پير دے، د وليانو ولي دے، د هغوئي يو لقب مُحيُ الدِّين (يعنې دِين ژوندي کولو والا) هم دے. حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې د دين کوم خدمت اوکړو، خومره په لويه پيمانه ئې د دين خدمت اوکړو، مونږه هغې ته ورنزدې کيدے هُم نه شو، حق خو دا دے چې که نن عاشقان رسول په دنيا کښې د دين د کار کولو سعادت حاصلوي نو دا هم د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فيضان دے. زمونږه پير غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ډيره لويه پيمانه د دين کار اوکړو، د لکونو خلقو اصلاح ئې اوفرمائيله، په زرګونو غير مسلمو ته ئې کلمه اووئيله، که مونږ د هغوئي ديني خدمتونه په غور سره اولولو نو پته لګي چې هغوئي د دين د کار کولو د پاره 3 اهم اندازونه اختيار کړل:

## (1): مدرسه جوړول

حضور غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ مدرسه جوړه کړه، هغوئي د 51 کالو عمر مبارک کښې باقاعده د نيکئ د دعوت عام کولو کار شروع کړو او د هغې نه 4 کاله پس په کال 528 هجرئ کښې هغوئي مدرسه جوړه کړه، چرته چې به هغوئي د قرآن، حديث، عِلمِ تفسير، اُصُولِ تفسير، تَصَوُّف او فقه وغيره د ديني علومو درس ورکولو. [1]

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي فيضانِ غوثِ پاک دے، د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ په فيضان سره دعوتِ اسلامي هم مدرسې جوړې کړې، د **اللّٰه** پاک په فضل و کرم سره په ملک او بهر ملک کښې **دعوتِ اسلامي** 1378 **جَامعاتُ المدينه** جوړ کړي دي، چرته چې د قرآنِ پاک، حديث شريف، عِلمِ تفسير، اُصولِ تفسير، اصولِ حديث، تصوف او فقه وغيره د ديني علومو تعليم ورکولے شي. دغه شان په ملک او بهر ملک کښې 14290 **مدرَسَةُ المدينه** هم جوړې دي، چرته چې ماشومانو هلکانو او جينکو ته د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرے مفت تعليم ورکولے شي، داسې د اوسني وخت د تعليمي ضرورتونو پوره کولو د پاره جديد علوم په ديني رنګ کښې د ښودلو د پاره المدينه انټرنيشنل اسلامک سکول سسټم هم جوړ دے، فيضان آن لائن اسلامک اکيډمي هم جوړه ده د کومو په ذريعه چې آن لائن کورسونه کولے شي، درسِ نظامي (يعني عالم او عالـمه کورس) هم کولے شي. د دې سره سره دعوتِ اسلامي جُز وختي مدرسې هم لګوي، لکه مدرسة المدينه بالغان، په کومه کښې چې د زيات عمر اسلامي وروڼو ته قرآنِ کريم د صحيح تجويد او قراءت سره ښودلے شي، د اوداسه، غسل او لمونځ وغيره ضروري مسئلے ښودلے شي.

---

[1] ... قُطب بغداد سيدنا عبد القادر الکيلانی، مدرسة الشيخ عبد القادر الکيلانی، صفحه: 25 خلاصةً.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! داسې د مدرسو جوړولو سره باقاعده ديني تعليم عام کول هغه ښکلے انداز دے کوم چې د نن نه په صدو مخکښې حضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هم اختيار کړے وو، بلکه پخپله د نبيانو سردار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم په مسجدِ نبوي شريف کښې صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته ديني تعليم ښودلو، په اسلامي تاريخ کښې د ټولو نه وړومبۍ مدرسه چرته به چې ټول ديني او دنيائي علوم ښودلے شو، هغه صُفّه مبارکه چوتره ده، کومه چې په مسجدِ نبوي شريف کښې موجوده وه او د دې بنياد د نبيانو سردار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کيښودے وو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د دې مبارک انداز خپلولو سره په ټوله دنيا کښې د ديني تعليماتو په عام کولو کښې مصروف دے.

## (2): ديني اجتماعات

د دين د کار کولو د پاره دويم ديني کار کوم چې حضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اختيار کړو، هغه ديني اجتماعات دي. غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به په هفته کښې 3 ځل بيان فرمائيلو (1): د جُمعے په ورځ (2): د اتوار په ورځ او (3): د نهې په ورځ.[1]

## د غوثِ پاک د بيانونو ښکلے شان

❁ ابراهيم بن سعد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: حضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به د علماو جامې اغوستلې او په اوچت ځائے (مثلاً په منبر وغيره باندې به) کښيناستلو او بيان به ئې

[1]... بَهْجَةُ الْاَسْرَار، ذکر وعظه رضی الله عنه، صفحه: 184 ملتقطًا.

فرمائيلو [1] ❁ حضور غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: په شروعِ کښې به زما سره 2 يا 3 کسان کښيناستل، بيا په مزه مزه خلق ډيريدل، خلق به د لرې لرې علاقو نه په اَسونو، خچرو او اوښانو وغيره باندې د بيان اوريدو د پاره راتلل، هغه وخت به تقريباً د 70 زره [خلقو] اجتماع کيدله (وروستو د دې اجتماع شميره نوره هم زياته شوې وه) [2] ❁ د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ شهزاده حضرت عبد الوهاب رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ په محفل کښې به لوئي لوئي علمائے کرام او مشائخ حاضريدل ❁ په هغوئي کښې 400 لوئي لوئي علمائے کرام خو هغه وو کومو چې به باقاعده کاغذ، قلم راوړلو او د هغوئي فرامين او ارشادات به ئې ليکل [3] ❁ شيخ عُمَر کَيمَانِي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: کله هم داسې نه دي شوي چې هغوئي بيان فرمائيلے وي او په محفل کښې چا توبه نه وي کړې. د هغوئي د بيان اوريدو سره به خامخا يو کَس توبه کوله غير مسلمو به کلمه لوستله او مسلمانيدل به. [4] ❁ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ پخپله فرمائي: زما په لاس باندې د 5 زرو نه زياتو غير مسلمو اسلام قبول کړو او د يو لاکھ نه زياتو ګنهګارو توبه اوکړه. [5]

| | |
|---|---|
| بیاں سُن کے توبہ گنہگار کرلیں | زباں میں وہ دیدو اَثر غوثِ اعظم! [6] |

---

[1]... بَهْجَةُ الْاَسْرَار، ذکر وعظه رضي الله عنه، صفحه: 189 ملتقطًا.

[2]... بَهْجَةُ الْاَسْرَار، ذکر وعظه رضي الله عنه، صفحه: 177 ملتقطًا.

[3]... بَهْجَةُ الْاَسْرَار، ذکر وعظه رضي الله عنه، صفحه: 184 ملتقطًا.

[4]... بَهْجَةُ الْاَسْرَار، ذکر وعظه رضي الله عنه، صفحه: 184.

[5]... بَهْجَةُ الْاَسْرَار، ذکر وعظه رضي الله عنه، صفحه: 184 ملتقطًا.

[6]... وسائلِ بخشش، صفحه: 558.

## دعوتِ اسلامي او ديني اجتماعات

اے عاشقانِ اوليا! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د حضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په فيضان سره دعوتِ اسلامي هم د ديني اجتماعاتو په ذريعه د دين په خدمت کولو کښې مصروف دے، د دعوتِ اسلامي د ټولو نه وړومبے ديني کار د کوم ځائے نه چې دعوتِ اسلامي شروع شو هغه هفته واره د سنتو ډکه اجتماع ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا وخت په ټوله دنيا کښې په 1697 ځيونو کښې هفته وار اجتماعات کيږي، په کومو کښې چې تلاوت کيږي، نعت شريف وئيلے کيږي، د سنتو ډک بيان کيږي، ذِکرُ الله کيږي، د ژړا ډکه دعا کيږي، د زده کولو او نورو ته د ښودلو حلقے لګي، په کومو کښې چې فرض علومِ دين ښودلے شي.

د دې نه علاوه د لويو شپو مثلاً د شبِ براءَت، شبِ معراج وغيره اجتماعات هم کيږي. د **الله** پاک کرم دے د دعوتِ اسلامي په دې اجتماعاتو باندې د اوليائے کرامو لوئي فيضان دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ډير ځل اوليائے کرام کرم فرمائي، د دعوتِ اسلامي په دې اجتماعاتو کښې شرکت کوونکو عاشقانِ رسول ته په خوب کښې تشريف راوړي او حوصلے ورله اوچتوي.

## غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په خوب کښې تشريف راوړو

د باب المدينه (کراچئ) واقعه ده، يو ځل د لوئي يوولسمي شريفې په سلسله کښې د ذکر و نعت اجتماع روانه وه، په دې اجتماع کښې د شريک يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د بيان نه پس چې کله په سلسله عاليه قادريه رضويه کښې د بيعت سلسله شروع شوه، هغه وخت په ناسته ناسته ما له خوب راغلے، د سر سترګې مې څه پټې

شوې چې د زړه سترګې مې اوغړيدلې، څه ګورم چې د يولسمې والا پير، غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ جلوه اوفرمائيله، هغوئي څادر اچولے وو، زه ور وړاندې شوم او څادر مې اونيولو.

د خوب ليدونکي اسلامي ورور ښځه د ورو بيماره وه او ډاکټر ورته د آپريشن وئيلي وو، دې اسلامي ورور د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې عرض اوکړو، هغوئي د دې حل هم اوښودلو او ورسره ئې اوفرمائيل: اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! بغير د آپريشن نه به دوه غبرګوني ماشومان پيدا کيږي، د يو نوم حسّان او د بَل نوم مشتاق کيږده، د دواړو په څټونو باندې به زما قدم وي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! وروستو هم داسې اوشول، د هغه اسلامي ورور بغير د آپريشن نه 2 غبرګوني ځامن پيدا شول.

یہ دل یہ جگر ہے یہ آنکھیں یہ سر ہے
جہاں چاہو رکھو قدم غوثِ اعظم (1)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ فيضان دے، د اوليائے کرامو فيضان دے چې د **الله** پاک په فضل باندې د دعوتِ اسلامي ديني کارونه او اجتماعات وغيره د اوليائے کرامو په بارګاه کښې مقبول دي.

فیضانِ رضا ہے اور یہ غوث کا فیضاں ہے
خواجہ کی حمایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی
عشاقِ مُحَمَّد کی ٹھنڈک ہے یہ آنکھوں کی
ہر دل میں سرایت ہے یہ دعوتِ اسلامی
آجاؤ گنہگارو! بدکارو! سیہ کارو!
بے شک رہِ جنّت ہے، یہ دعوتِ اسلامی (1)

[1]... سامانِ بخشش، صفحه: 126.

## (3): د خلقو سره ښيګړه کول

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دريم کوم کار چې حضور غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ اختيار کړے وو او په دې انداز کښې هغوئي د دين ښه ډير خدمت اوکړو، هغه د اُمَّتِ مسلمه سره ښيګړه ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حضور غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ پخپله هم خير خواهي کوونکے، ډير شفيق او مهربان وو. هغوئي به د غريبانانو سره مرسته کوله، د غم ځپلو زړونو مرهم به جوړيدو، د غم ځپلو سره به ئې مرسته کوله. يوه ورځ هغوئي د بيان په وخت اوفرمائيل: پاک دے هغه ذات چا چې زما په زړه کښې د مخلوق سره د ښيګړې جذبه واچوله او **د مخلوق سره ښيګړه کول ئې زما د ژوند لوئي مقصد جوړ کړو.** [2]

## سوشل ويلفئير او دعوتِ اسلامي

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! **دعوتِ اسلامي** هم د خير ښيګړې کارونه کوي. د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي خلقو ته د دين د تبليغ کولو سره، د لمونځ ښودلو سره، د روژو، حج او زکوٰة د حکمونو ښودلو سره، د سنتو نمونې جوړولو سره، د نيکئ د دعوت ورکولو سره، د نيک لمونځ ګزاره جوړولو وغيره خير خواهي هُم کوي او د دې سره سره د دعوتِ اسلامي يو ډيپارټمنټ دے: *FGRF*. د دې ډيپارټمنټ بنيادي مقصد د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم د غم ځپلي اُمَّت سره خير خواهي کول، غم خوري کول، په ناڅاپه آفت مثلاً خدائے دې نه کړي زلزله راشي، سيلاب راشي نو فوراً په امدادي کارونو کښې برخه اخستل دي.

---

1 ... وسائل فردوس، صفحه: 4645 ملتقطًا.

2 ... الفتح الربانی، المجلس السادس، صفحه: 41.

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! تاسو به د دې نه د خبريدو سره ډير خوشحاله شئ چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي د خپل ډيپارټمنټ *FGRF* زيرِ اهتمام ❁ تر اوسه پورې په سيلاب زدګانو باندې تقريباً د 2 اربه روپو نه د زيات سامان او نغد رقم لګولے دے. ❁ سيلاب وهلو علاقو نه د اوبو ويستلو په کار باندې تقريباً د 5 کروړه روپو نه زيات رقم خرچ شوے دے. ❁ سيلاب زدګانو ته ئې په زرونو خيمے ورکړې دي ❁ 4 مياشتو پورې ئې په مختلفو ځايونو کښې موجودو زرګونو کسانو دپاره د درې وخته خوراک انتظام اوکړو ❁ 2929 نه زيات کورونه او په سوونو جُماتونو د دوباره تعمير سلسله هُم شروع شوه ❁ تقريباً 257 فري ميډيکل کيمپونه ئې اولګول، ❁ په سُرجاني (کراچئ) کښې باران نه متاثره شوو تقريباً 350 کورونو باندې راشن او خوراک تقسيم کړے شو ❁ 20 نوو مسلمان شوو کورونو باندې راشن او خوراک تقسيم کړے شو ❁ په ټول ملک کښې تر اوسه پورې تقريباً د 1900 نه زيات کوهيان او سولر پمپونه لګولے شوي دي ❁ د تهيليسيميا او نورو مرضونو کښې اخته کسانو د مرستې د پاره تر اوسه پورې تقريباً د وينې 60 زره ډراپونه (*Blood Bags*) مختلفو ادارو ته ورکړے شوي دي ❁ د داسې معذوره ماشومانو دپاره چې هغوئي جُزوِي طور د اوريدو يا خبرو کولو نه محرومه وي د هغوئي د بحالئ د پاره اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ***Faizan Rehabilitation Center*** **(*F.R.C*)** [فيضان رِي هَيبي لِيټَيشَن سينټر] جوړ کړے شوے دے، چې په دې کښې تقريباً د 2000 نه زيات رجسټريشن شوي دي.

دغه شان د دعوتِ اسلامي يوه **شعبه روحاني عِلاج** هم ده. اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا وخت په ټوله دُنيا کښې په 7 لاکه 69 زره او 168 مقاماتو کښې د **روحاني علاج** بستے [يعني سټالونه] لګي او د دې شعبے تحت د غم ځپلو، پريشانه، تنګ دستو او بيمارانو خلقو في سبيل الله روحاني عِلاج کولے شي. تاسو هم د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شئ او د

اُمَّت د ښيګړې او خير خواهئ او رحم دلئ په دې ديني کار کښې د دعوتِ اسلامي سره ملاتړ اوکړئ. الله پاک دې مونږ ټولو له د عمل کولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہو مرا کام غریبوں کی حمایت کرنا
درد مندوں سے، ضعیفوں سے محبت کرنا

دُور دُنیا کا مرے دم سے اندھیرا ہو جائے
ہر جگہ میرے چمکنے سے اجالا ہو جائے

میرے اللہ! برائی سے بچانا مجھ کو
نیک جو راہ ہو اس راہ پہ چلانا مجھ کو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي، ژوند بدلوونکے تحريک دے، تاسو هم د ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته اوسئ، د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي. د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار علاقائي دوره هم ده.

❁ د حديثِ پاک خُلاصه ده: په کوم قدم [ښپه] باندې چې د الله پاک په لاره کښې دوره پريوځي، د دوزخ وور به هغه ته نه ورنزدې کيږي[1] ❁ د نيکئ دعوت ورکول، او د ګناه نه د بچ کولو د پاره د کور نه وَتَل هم د الله پاک په لاره کښې وَتَل دي ❁ زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکئ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائيلو ته به ئې تشريف وړلو او د نيکئ دعوت به ئې ورکولو

---

[1] ...مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356.

❁ دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو کوشش کوي ❁ کور کورونو او دکان دکان ته ورځي او د نيکئ دعوت ورکوي ❁ خلقو ته جُماتونو ته د راتللو دعوت ورکولے شي ❁ د لمونځونو ترغيب ورکولے شي ❁ مونږ دې ته **علاقائي دوره** وايو ❁ تاسو هم د عاشقانِ رسول سره په علاقائي دوره کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په **سُنّتِ انبياء** باندې به د عمل کولو سعادت درنصيب شي ❁ د نيکئ د دعوت عام کولو ثواب به مو کيږي ❁ د **حديثِ پاک** مطابق د نيکئ لار ښودونکے، د نيکئ کولو والا په شان دے [1] ❁ که زمونږ د نيکئ په دعوت يو کَس هم نيک لمونځ ګزاره جوړ شو نو يقين اوکړئ! مزې به مو شي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير ثواب به مو کيږي.

## غير مسلمه مسلمان شو

د پاکستان د پنجاب صوبے د دعوتِ اسلامي د يو مبلغ بيان دے، يوه ورځ زمونږ ځائے ته د کراچئ نه مدني قافلے تشريف راوړو، د مدني قافلے والؤ سره په شريکه ما ته هم په علاقائي دوره کښې د شرکت کولو شرف ميلاؤ شو، مونږه د يو درزي د دُکان نه بهر خلق راجمع کړي وو او د نيکئ دعوت مو ورکولو، کله چې بيان ختم شو نو د هغه دُکان يو ملازم ځلمي اووئيل: **زه غير مسلمه يم.** ستاسو د نيکئ دعوت زما په زړه باندې ډير اثر اوکړو، **مهرباني اوکړئ ما هم په اسلام کښې داخل کړئ.** بيا اَلْحَمْدُ لِلّٰه! **هغه کلمه اووئيله او مسلمان شو.**

مقبول جہاں بھر میں ،ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے رَبِّ غفّار! مدینے کا

[1] ... ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدّال... الخ، صفحه:628، حديث:2670.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د کفن دفن ایپلي کیشن

اے عاشقانِ رَسُول! اوسنے دور د ټیکنالوجۍ دور دے، په مونږ کښې به کیدے شي چې د هر یو سره اینډرائډ موبائل (*Android*) یا آئي فون وي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي د سمارټ فون (*Smart phone*) په ذریعه هم د عِلمِ دین عام کولو کوشش کوي. په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له طرفه مختلف موبائل ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي، په کومو کښې چې یو موبائل ایپلي کیشن دے: ***Muslim's Funeral*** (کَفَن دَفَن). په دې موبائل ایپلي کیشن کښې د مَړي د غُسل او کفن دفن وغیره په باره کښې ډیر اهم معلومات ورکړے شوي دي او یوه خاص خبره دا ده چې مَړي له به غُسل څنګه ورکوۍ، کَفَن به ورته څنګه اچوۍ، د دې د عملي طریقے د پاره ***Animated Videos*** [متحرک ویډیوګانې] هم شامِلې دي.



تاسو هم په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انستهال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او يو څو سُنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## کمې خبرې کول د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: د انسان په خاموشۍ باندې قائم پاتې کيدل د 60 کاله عِبادت نه بهتر دي.(2)

اے عاشقانِ رَسُول! کمې خبرې کول د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زمونږه آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوږدې خاموشۍ والا وو. (3) هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ضرورت نه بغير د خلقو سره خبرې نه فرمائيلې، د هند بن ابو

---

1 ... ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳

2 ... شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: حفظ اللسان، جلد:4، صفحه:245، حديث:4953.

3 ... شرح السنه للبغوی، جلد:7، صفحه:450، حديث:3695.

هاله رضی اللہ عنہ بيان دے چې هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم به د ضرورت نه بغير خبرې نه فرمائيلې بلکه اکثر به خاموشه پاتې کيدلو [1] د خاموشۍ نه مُراد دے: د دنيا د خبرو نه خاموشي ګني د حضورِ اَقدَس صلی اللہ علیہ والہ وسلم ژبه مُبارکه خو به د **الله** پاک په ذِکر کښې مشغوله اوسيدله. [2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ❀ خاموشي حِکمَت دے ❀ د کمو خبرو سره عقل کامِل کيږي ❀ کمې خبرې کول د عِبادَت چابي ده ❀ د کمو خبرو سره د عبادت مزه نصيب کيږي ❀ د کمو خبرو سره عزت، وقار او عِلم زياتيږي ❀ څوک چې د ضرورت نه بغير د خبرو کولو نه ځان بچ کړي، هغه په شيطان باندې غالب اوسي.

**الله** پاک دې مونږ ته هم د کمو خبرو کولو، صِرف د ضرورت خبرې د خُلې نه د ويستلو او د فضول بق بق کولو نه د بچ کيدو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلی اللہ علیہ والہ وسلم

| | |
|---|---|
| يارب نہ ضرورت کے سوا کچھ کبھی بولوں | اللہ زباں کا ہو عطا قفلِ مدینہ [3] |

مختلف سُنَّتونه او آداب زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ عِلّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د 100 صفحو کتاب 550 سُنّتیں اور آداب واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه بهترينه ذريعه د **دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو** کښې عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر هُم دے.

[1]… شمائل ترمذی، صفحه:353، حديث:225.

[2]… مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:81.

[3]… وسائلِ بخشش، صفحه:93.

زده کړئ ښکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
اوګټئ ډير رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به لرې آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَالٰی مُحَمَّد

اے زمونږه خوږه **الله** پاکه! مونږ ته اخلاص سره د عمل کولو توفيق رانصيب کړې." اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم

1 . . . القول البديع، الباب الثاني، ص٢٧٧

2 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَۀ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

---

1 ... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

3 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵